مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهاند.م.ا. زیار ۲۰۱۸/۰۵/۳۱

محمد محسن مختار هم

له طنزیه- انتقادي او سندریزي شعرسره

د مرگ غبرګي ته ولاړ

(د۱۳۹۳یادښت پر بنسټ)

د پښتو له څلورګونو ګړدودي سیمو (سوېل لویدیځ – سوېل ختیځ – منځ و میانه – شمال ختیځ) څخه روستی دي د شعرو ادب له پلوه میدان وړی، هم د (و) ګړني او هم د لیکني هغه له پلوه. په دغه لړ کي د ننګرهار او لغمان ولسي او نیمولسي شعر ډېر پامور بلل کیږي چي له ټنګ ټکور سره اوږه پر اوږه راغلی او غاړه غړی شوی، او هممهاله یي ورسره وده او وش موندلي دي:
یو لامل یي دا چي دواړي سیمي پر هېوادني – جغرافیایي کچ له ګڼمېشتو او ګڼ ټبریزو پښتني سیمو څخه ګڼل کیږي او اوسېدونکي یي سره تر بلي هري سیمي ډېر اېل و غېل (محشور) پاتي شوي دي، لکه څنګه چي ټولنیز تایخ راز باده کړي، د داسي وګړنیو ډلو ټپلو ټولنیز-فرهنګي پرمختیایي بهیر تر نورو زیات ګړندی او هر اړخیز وي، او دویم لامل یي له خیبر پښتونخوا سره نه شلېدونکی فرهنګي اړاو تړاو دی؛ په ځانګړي توګه د شعر و ادب او ټنګ ټکور هغه اغېزو چي لرو برو پښتنو له هندي نیمي وچي، له خپل رنګ و خوند سره راخپلي کړي، ننګرهار او لغمان هم اغېزمن کړي دي.
د رواني لمریزي پېړی په لومړیو درو څلورو لسیزو کي د ننګرهار پر کچ له ملنګ جان او د لغمان پر کچ له محمد نور سره ولسی شاعري یوه نوي پرمختیایي پړاو ته را ګډېږي.
دا هغه مهالپېر دی چي دغلته د دودیز زده کړیز سېستم له نومهالي هغه سره اړخونه بدلوي او داسي شاعران رامنځته کیږي چي یوخوایي د دودیز نصاب له لاري پارسي لیک و لوست او زده کړي ازمایلي او بلخوا یي هممهاله نومهالي دا.
په دغه ډله کي اروابناد محسن مختار تر بل هر همپېري ((همعصر)) میدان وړی او داسي په زړه پوري لار و رَو ده یي پر مخ اخېستي چي په طنزیه،انتقادي پرداز سره یي هم د رسنیو او هم د ټنګ ټکور له لاري د لوستو او نالوستو ټولو سترګي او غوږونه ورځني خوند او اغېز اخلي.
له دي سره، سره یي د خپلي پاړکیزي ځانخبرۍ "خود آګاهی" پر بنسټ د کار و زیار د پرګنو د پیغام رانغښتنه او له نورو ډېرو سره یي د سري کرښي په راکښنه د شعري پنځونو له غورو ځانګړتیاوو او بېلتیاوو څخه ګڼل کیږي.
په زړه پوري یي بیا داچي دنیمولسي شاعرۍ په ترڅ ترڅ کي یي کره، ادبي، هنري پلیوني هم ازمایلي او د اور اورکي په څېر یي دلته او هلته ځلاندي بېلګي را پنځولي دي، لکه واخلي د خپل "مشر زوی" د ژوندي ژړاند تري تم کېدني ویرنه چي داسي یي را پیلوي.

سپین سهار وو
ما د غبرګي مرغه وینې کړ
د ځوانۍ له خواره خوبه
رانه والوت
پر سفر ولاړ لري لري
نور مي ونه لید په سترګو
تري تم شو تل لپاره...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

همداسې يې د دويم ژوندي پاتې زوی "پسرلي" په بېلتانه کې:

د هستۍ وچه بېديا مې
تنده غرې جل وهلې
رانه ولاړې دسرو ګلو نا اشنا شانتې ګلبڼ ته!

ورته ازادې بېلګې:
زړه مې ډنډ دی د سرو وينو
چې له سترګومې را ځاځې،
راتويېږي
نه پوهېږم چې چېرې،
چاته پنا يوسم؟

په نيمولسي قافيوالو بېلګو کې خپل زړه، د زور و زرو پر وړو خدايانو تشوي:
خدايه ورک کړه دا واړه واړه خدايان
چې د زرو په زور موږ باندې خدايي کړي...

او کله چې پوځي زدکړو ته اړوځي او ان تر ډګر والۍ رسي،له ځانه لوړګوندي بولندوی (قوماندان) هم بې پيغوره نه پرېږدي:
په ما دې تجارت کاوه د حزب په خزانه کې
راولوېدې له بامه، اوس په کومو سترګو ګورې
زه خړ، سپېره عسکر وم ستا زنګي غلام په مخ کې
غرور دې له هوسه راکولې سپکې سپورې!

او په پای کې يې دا نوښتګرانه هڅه چې د څو ټولګو په لړ کې يې د "سياست د شعر په هنداره کې" له اماني پېره تر کرزي پورې د هېواد اتياکلن تاريخ په ټوله رښتينولۍ رانغښتی،داسې چې ګردې سياسي ښې او بدې يې پکې له اړوندو لوبغاړو سره په روانه طنزيه او بيا زړه راښکونکې انتقادي ژبه پېيلې او شنلې او په دې توګه يې د چا خبره يوه کوشنۍ شاهنامه راپنځولې ده.
دلته يې پر پښتۍ باندې د (غازي امان اله، کلکاني، نادر، ظاهر، داود،تره کي، امين، کارمل، دوکتور نجيب، مجددي، رباني،ملاعمر او کرزي) له راوړو نيمتنه څېرو سره پر دې يوه بيت بس راوړم:

د هرچا عمل که ښه وي او که بد
په تاريخ کې به يادېږي تر ابد!

د تلپاتې ترانو په بدرګه يې ويرمنې کورنۍ او مينوالو ته
خپلې خواخوږۍ وړاندې کوم!
ستاسې زيار، اکسفورډ ۳۰مې ۱۸

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ